

# د کچې پر بنسټ د تادیې پلان

ستاسو د اساسي خدمتونو د بل لګښت هره میاشت د دې له مخې بدلېږي چې تاسو څومره انرژي کاروئ. د بېلګې په توګه، د اوړي په تودو میاشتو کې ممکن تاسو د خپل کور د یخولو لپاره ډېره برېښنا وکاروئ. په غیرمعمولي ډول د لوړ بل ترلاسه کول کېدای شي د اندېښنې وړ وي. د کچې پر بنسټ د تادیې په پلان کې په شاملېدو سره، تاسو به وکولای شئ چې هره میاشت د اساسي خدمتونو د بل لپاره یوه ټاکلې اندازه تادیه کړئ. دا کار کولای شي له تاسو سره د بودجې په تنظیم کې مرسته وکړي او د لوړې اندازې د ناڅاپي بل له ستونزې څخه مو وژغوري.



که تاسو خپله انرژي د **Pacific Gas and Electric Company (PG&E)** څخه ترلاسه کوئ، دې پروګرام ته د **متوازن تادیې پلان (Balanced Pay Plan)** ویل کېږي. که څه هم نوم یې توپیر لري، خو دا پروګرام د نورو اساسي خدمتونو شرکتونو د کچې پر بنسټ د تادیې پلانونو په څېر کار کوي.

## دا څنګه کار کوي؟

د اساسي خدمتونو شرکت به د تېرو 12 میاشتو بیلونه وڅېړي، ترڅو معلومه کړي چې تاسو عموماً څومره انرژي کاروئ. شرکت به ستاسو د تېر مصرف پر بنسټ د نوي کچې پر بنسټ د تادیې پلان د تادیې اندازه وټاکي، چې د تېرو بلونو منځنۍ اندازه به محاسبه کړي.

دا منځنۍ مقدار به هغه میاشتنۍ مبلغ وي چې تاسو به یې د نوي پلان له مخې تادیه کوئ. تاسو به هره میاشت هماغه یوه اندازه تادیه کوئ. په ځینو میاشتو کې به تاسو د هغې انرژۍ په پرتله چې په حقیقت کې یې کاروئ، د ډېرې انرژۍ پیسې ورکړئ، او په نورو میاشتو کې به د هغې انرژۍ په پرتله چې په حقیقت کې یې کاروئ، د لږې انرژۍ پیسې ورکړئ.

هر څو میاشتې وروسته، د اساسي خدمتونو شرکت به د هغې انرژۍ حقیقي اندازه چې تاسو کارولې ده، وڅېړي او له هغې اندازې سره به یې پرتله کړي چې تاسو یې پیسې ورکړې دي. که تاسو د هغې انرژۍ په پرتله چې کارولې مو ده، د لږې انرژۍ پیسې ورکړې وي، نو تاسو به پاتې مبلغ تادیه کړئ. دا مهمه ده چې پوه شئ چې د کچې پر بنسټ د تادیې پلان ستاسو د بل اندازه نه کموي. تاسو به بیا هم د هغې ټولې انرژۍ پیسې تادیه کوئ چې تاسو یې کاروئ. د کچې پر بنسټ د تادیې پلان یوازې ستاسو تادیات په متوازن ډول وېشي، ترڅو له تاسو سره د بودجې په ښه تنظیم کې مرسته

نور معلومات په شاتنۍ برخه کې دي

California Public Utilities Commission
505 Van Ness Ave.
San Francisco, CA 94102
800-848-5580 (وړیا شمېره)
cpuc.ca.gov

CHANGES PROGRAM

COMMUNITY HELP AND AWARENESS OF NATURAL GAS AND ELECTRICITY SERVICES

A PROGRAM OF THE CALIFORNIA PUBLIC UTILITIES COMMISSION



وکړي. هر څو میاشتې وروسته، د اساسي خدمتونو شرکت به د هغې انرژۍ حقیقي اندازه چې تاسو کارولې ده، وڅېړي او له هغې اندازې سره به یې پرتله کړي چې تاسو یې پیسې ورکړې دي. که تاسو د هغې انرژۍ په پرتله چې کارولې مو ده، د لږې انرژۍ پیسې ورکړې وي، نو د خپل اکاونټ د برابرولو لپاره به تاسو هغه پاتې مبلغ تادیه کړئ چې تر اوسه مو کم ورکړی دی. که تاسو د هغې انرژۍ په پرتله چې په حقیقت کې مو کارولې ده، د ډېرې انرژۍ پیسې ورکړې وي، نو ستاسو اکاونټ ته به کریډیټ اضافه شي. ستاسو د نوي میاشتني تادیې اندازه به ستاسو د انرژۍ د وروستي حقیقي مصرف له مخې تنظیم شي.

که څه هم د کچې پر بنسټ د تادیې پلان پروګرام په ټولو اساسي خدمتونو شرکتونو کې ورته دی، خو ځینې شرکتونه به هرې 3 میاشتې وروسته لګښتونه وڅېړي او بیا به یې وارزوي، په داسې حال کې چې نور شرکتونه به هرې 6 میاشتې وروسته لګښتونه بیا وارزوي. ستاسو سیمه‌ییزه CHANGES اداره کولای شي ستاسو په سیمه کې د اساسي خدمتونو شرکتونو د بیا ارزونې د جزئیاتو په اړه معلومات درکړي. ستاسو د CHANGES اداره به تاسو ته دا هم وښیي چې څنګه خپل حقیقي مصرف تعقیب کړئ او د کچې پر بنسټ د تادیې په پلان کې یې له هغې اندازې سره پرتله کړئ چې تاسو یې تادیه کړې ده.

## ایا د کچې پر بنسټ د تادیې پلان ستاسو لپاره مناسب دی؟

د کچې پر بنسټ د تادیې پلان ښايي یو ښه انتخاب وي، که تاسو غواړئ په ډېرو میاشتو کې په دقیقه توګه پوه شئ چې څومره پیسې به تادیه کوئ. تاسو باید دې ته هم چمتو اوسئ چې هر څو میاشتې وروسته اضافي لګښتونه تادیه کړئ، کله چې شرکت ستاسو د انرژۍ مصرف وڅېړي او اړین تعدیلات پکې راولي.

## هغه پېرودونکي چې ممکن ترې ګټه وانخلي

که څه هم ستاسو بل به هره میاشت په ټاکلې اندازه وي، خو هر څو میاشتې وروسته به ستاسو د اساسي خدمتونو شرکت بیاکتنه ترسره کوي، چې که ستاسو مصرف زیات شوی وي، ممکن اضافي لګښت دربانديې راشي. که تاسو فکر کوئ چې د بیاکتنې له مودې وروسته به ستاسو د پاتې اضافي مبلغ په تادیه کولو کې ستونزه ولرئ، نو د کچې پر بنسټ د تادیې پلان ممکن ستاسو لپاره تر ټولو مناسب پلان نه وي.

ستاسو د CHANGES اداره کولای شي له تاسو سره د کچې پر بنسټ د تادیې په پلان کې د شاملېدو په برخه کې مرسته وکړي. دا اداره کولای شي ستاسو بلونه هم وګوري، د اسنادو او فورمو په ډکولو کې درسره مرسته وکړي، ستاسو پر ځای د اساسي خدمتونو له شرکت سره خبرې وکړي، او ستاسو پوښتنو او/یا اندېښنو ته ځوابونه درکړي.

**د مرستې لپاره له خپلې سیمه‌ییزې CHANGES ادارې سره اړیکه ونیسئ:**

California Public Utilities Commission

**د طبیعي ګاز او برېښنايي خدماتو په اړه ټولنیزه مرسته او پوهاوی**

**(CHANGES) پروګرام**

www.cpuc.ca.gov/team-and-changes

teamandchanges@cpuc.ca.gov

که تاسو ونه شئ کولای چې خپله شخړه له خپل خدماتي شرکت سره حل کړئ، نو د خپلې CHANGES ټولنیزې ادارې (CBO) سره اړیکه ونیسئ.